# مطبوعاتي اعلامیه

## د سپوږمۍ لیدنه په هېواد پالنه او سیاست بدله شوې؛ نور نو فقهي موضوع نه ده

دا ډېره د خواشنۍ خبره ده، چې مسلمانان د دې پر ځای چې د روژې مبارکه میاشت لکه څرنګه چې ښايي، په سوله او مهربانۍ سره پیل کړي، نن د سپوږمۍ لیدنه د مسلمانانو په منځ کې د دوښمنۍ د پیل په موضوع بدله شوې.

د بریتانیا او فرانسې تر منځ اشغالګر تړون؛ سایکیس-پیکو هغه تړون چې له مخې یې مسلمانان د اشغالي پولو له مخې سره ویشلي، ترڅو دوی وربانديې د خپلو غلامانو (اوسنیو مسلمانو حکامانو) پر مټ پرې حکمراني وکړي، دا هېوادونه له زیات وخت راهیسې د نیشنلیزم، هېوادپالنه او سمت پرستۍ پر نامه پیژندل کیږي. بد حالت خو دا دی، چې هر هېواد ځانته خپل علما او مذهبي شورا ګانې لري او د خواشینۍ خبره دا هم ده، چې دا شوراګانې داسې فتواوې ورکوي، چې په مستقیمه توګه له شریعت سره په ټکر کې دي. مونږ په واضح ټکو سره بیانوو، چې روژه او د اختر نمانځنه  یو عبادت دی او مسلمانانو ته په کار ده، چې دوی د شریعت له مخې دا کار تر سره کړي، نه د دغو سیکولرو حکومتونو په خوښه، چې نن یې مونږ شاهدانو یوو.

سره له دې چې مونږ د سپوږمۍ لیدنې د موضوع لپاره دوې لویې نظریې لرو، چې یوه نړیواله او بله سیمه‌ییزه ده، خو واقعیتونو ته په کتو سره د سایکیس-پیکو تړون د اغېز له امله اوس یوه بله بهرنۍ نظریه را پیدا شوې، چې ټوله پر هېواد پالنه څرخیږي! له همدې امله اوس که د هېوادونو تر منځ توپیر یوه، درې یا څلور دقیقې هم وي، مسلمانان د نړیوال یووالي په څېر روژه نه نیسي، حتی په یو هیواد دننه کې هم دا کار نه تر سره کوي!

مونږ په ډاګه وایو، چې د دغو سیکولرو حکومتونو تر سیوري لاندې ژوند کول، د مسلمانانو هغه یووالی نور هم له خنډونو سره مخ کوي، چې الله سبحانه وتعالی یې غوښتنه کړې. الله سبحانه وتعالی فرمایلي:

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾

[عمران:۱۰۳]

ژباړه: د الله سبحانه وتعالی په رسۍ (شریعت) منګولې ولګوئ او تفرقه مه جوړوئ.

دغه مبارک ایت مسلمانانو ته امر کوي، چې په هر ځای کې یاست باید د یو اسلامي امت په څېر واوسئ. دوی اجازه نه لري چې خپل ځانونه هېواد پاله، نیشنلیستان او قوم پاله وښیي، ځکه چې دا ټول قومي افکار دي او هیڅکله مسلمانان یووالي ته نه پرېږدي. سربېره پر دې مونږ وینو چې نن ورځ دغو افکارو اسلامي امت څرنګه په جګړه کې راګیر کړی او برباد کړی.

دا وضعیت په مستقیمه توګه د خلافت (اسلامي دولت) له نشت سره تړاو لري، چې د یوه واحد امیر له لوري یې رهبري کیږي او د هغه بیان ورستی او ټولو ته د منلو وړ دی.

له همدې امله مونږ په پرله پسې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره د خلافت پر بیا تاسیسولو سره ټینګار کوو، ترڅو د مسلمانانو ترمنځ خلافت پای ومومي او د دښمنانو هغه هڅې له منځه یوسي، چې غواړي پر مټ یې د مسلمانانو یووالی له منځه یوسي. په خلافت یا اسلامي دولت کې خلیفه یا امام حق لري، چې یوه اسلامي نظریه پر خلکو په زور عملي کړي، ترڅو د مسلمانانو یووالی خوندي وساتل شي. په حقیقت کې ویلی شو، چې د امام امر دا اختلافات له منځه وړلی شي.

حزب التحریر- ولایه-کنیا

په کینیا کې د حزب التحریر مطبوعاتي استازی

شباني موالیمو

۱۴۴۰، د رمضان ۳ مه

۲۰۱۹، د مې ۸ مه، چهارشنبه

ګڼه: ۱۴۴۰/۱۰